مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دا زده کړه څه شی ده ؟

نورالحق ن. څلی ۲۰۲۳/۰۳/۱۵

زده کړه؛ یوه پېچلې ښکارنده ده، له دې چې له ډېرو څانګو او څېرمه ییزو (فرعي) برخو څخه برخمنه ده، نو ځکه تعریفول یې اسانه کار نه دی. همدا لامل دی چې د زده کړې لپاره لا تر اوسه یو عام منل شوی تعریف او نه بدلېدونکی)ثابت (پوهاوی نه لرو. هر څوک یې په اړه خپل فکر او خپلې انګېرنې لري.

زده کړه تر ډېره د ټولې ټولنې دنده او پازوالي (مسؤلیت) ده. همدا وجه ده چې تر ډېره بریده په عامو ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو کې مخته بیول کېږي.

زده کړه د بدلون وسیله ده. زده کړه د زده کړه وال (زده کوونکي) د عقل، شعور، کرکټر او د فزیکي وړتیاوو د جوړولو پروسه ده. زده کړه هغه پروسه ده چې ټولنه د ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو تعلیمي بنسټونو پر مټ خپل فرهنګي میراث، ارزښتونه او مهارتونه له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږدوي. کېدای شي داسې هم ووایو، چې د خپلو رېښو پېژندلو او د راتلونکي د انځورولو وړتیا ته زده کړه وایي. که داسې ووایو هم سمه ده: زده کړه د هغه څه ټولګه ده چې یو انسان یې زده کوي او په پایله کې دا وړتیا پیدا کوي ترڅو خوښ، موخه لرونکی او ګټور ژوند پرمخ بوځي.

زده کړه داسې څه نه ده چې پای ولري. زده کړه څوک پای ته نشي رسولی، ځکه ان تر مرګه دوام کوي. په بله وینا، د انسان زده کړه ان تر مرګه نه بشپړېږي.

زده کړه د سوچ کولو لپاره خواړه ورکوي. ارنست ار. هاوشکه څه ښه وایي:« هغه خلک څه په درد خوري، چې لوستل او لیکل یې زده کړي دي، خو فکر کول یې نورو ته پرېښي دي».

که چېرې خلک او اوسنی نسل بې زده کړې پاتې شي هېواد ته په ډېره ګرانه بیه تمامېږي او راتلونکو نسلونو ته یې هم زیان رسېږي. ځکه وایي:« زده کړه د راتلونکو نسلونو په وړاندې د اوسني نسل هغه پور دی چې باید پرې یې کړي».

دا بېوزلي هم یوازې یوه چاره لري، چې هغه زده کړه ده. ځکه زده کړه مور ته ډاډ راکوي، نېکمرغه کوي مو، په شوق او احساساتو مو راولي.

دا زده کړه ده چې د یوه شخصیت وړتیاوې او ځانګړتیاوې بشپړوي. دغه کار د ودې په یوه پر له پسې بهیر کې تر سره کېږي. له دی نه دا پایله راوځي چې زده کړه یو دوامداره بهیر دی.

پوهه، روښاندي (روناندي) او فرهنګیالي (محذب) د زده کړې استازولي کوي. همدا شان زده کړه د فردي شخصیت په جوړولو او د استعدادونو په غوړولو کې هم ستر رول لري.

لکه څرنګه چې پوهېږو، پوهه له یو څه سره پېژندګلوي لرل دي. روښاندي بیا له خاصو هنري او علمي پوهې څخه لاس ته راځي. فرهنګیالي بیا د زده کړه وال د ټولنیز ژوند زړه غوښتې بڼه ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا هم څرګنده ده چې « زده کړه» په فردي کچه تر سره کېږي. په فردي کچه کې بيا هر څه په فردي لېوالتياوو، فردي تعريفونو او فردي غوره ګڼنو (رجحان) پورې اړه پيدا کوي. همدا د ټولنې د غړو فردي زده کړه په پای کې د ټولنې د زده کړې ټولګه ټاکي او هغه څه ته وده ورکوي چې موږ يې « جمعي تعقل» بولو.

په فردي کچه د ټولو زده کړې يو شان نه وي. يو تن يوازې د ښوونځي او بل يو د پوهنتون په کچه زده کړې کوي. درېيم بيا ان تر فلسفي پېژندګلوی يا د پوهنې اوډنې (تنظيموني) پورې مخ ته ځي.

« زده کړه» ډېره پېچلې مانا لري، چې هم له ژبې، هم له فرهنګ او هم له تاريخ سره تړاو لري. د يادونې ده، د ودې په بهير کې د زده کړې مانا ډېر ځله بدله شوې ده.

که چېرې د زده کړې لپاره مانا لټوو، نو بايد لږ تر لږه په لاندې مفهومونو: د شخصيت په وده؛ د ماهر کارې ځواک په روزنه؛ د سيالۍ جوګه اقتصاد په پنځونه؛ د سولې په ساتنه؛ او د فرهنګي پوهې په لېږدونه کې ولټول شي.

د ولسونو د سياسي ژوند هر پراو خپلې خبرې او خپلې غوښتنې لري، چې همدا خبرې او غوښتنې يې بيا لومړيتوبونه جوړوي. که چېرې يو ولس دغو خبرو او غوښتنو ته غوږ نشي، هغه ولس خامخا د زمانې له کاروان څخه وروسته پاتېږي. په بله وينا، هغه ولس چې څرګندې موخې و نه لري، د هغه ولس برخليک له پر له پسې ماتې سره مخامخېږي، خو هغه ولس چې ځان ته موخې ټاکي او هغو ته د رسېدو هڅې کوي، هغه ولس بيا خپل برخليک ته بڼه ورکوي او د پرمختګ په لور اوچت ګامونه اخلي. په لوړ آواز وايو چې زده کړه د اوسنۍ زمانې د خبرو او غوښتنو په سر کې راځي او همدا زموږ د ولس لومړيتوب دی.

له دې چې زده کړه هر انسان ته يو، خدای ورکړی حق دی، نو ځکه هېڅوک دا حق او واک نه لري چې هغه د نجونو او هلکانو د زده کړو په نوم ووېژي. که چېرې زده کړه د جنسيت په حساب ووېشل شي، هغه بيا حق نه دی بلکې امتياز دی. امتياز بيا کېدای شي يو چا ته ورکړل شي، خو کوم يو بل چا ته نه. « خدای هم ليدلي دي چې په دې نړۍ کې له ښځو پرته ژوند نه کېږي»، چې داسې ده نو راځئ چې د ښځو پر حقوقو تېری و نه کړو. زموږ په ټولنه کې ښځې تر نارينه وو ډېر زيار ګالي.

په افغان سېمځلي فرهنګ کې ښځه لوړ مقام لري. د ميوند ملاله، د افغان ښځې د رامخته کېدو د مېرانې ښه بېلګه ده. زموږ په هره سيمه کې داسې بېلګې لرو چې يوه ښځه رامخته شوې ده او پر قهرېدليو نارينه وو يې غږ کړی چې په خپلو کې جنګ او دښمني ودروئ ! له داسې غږ سره جګړه او دښمني سمدلاسه پای ته رسېدلې. راځئ خپل اصالت ته ور وګرځو.

په زغرده يې وايو، د جهالت او زده کړې ترمنځ د سيالۍ ګټونکې زده کړه ده. جهالت شرمونکی او ماتې خوړنکی دی. بشپړ باور لرو چې زموږ نجونې او هلکان به د پوهې په ډګر کې هم ستری لاسته راوړني ولري.

د نجونو پر مخ دې د ښوونځيو او پوهنتونونو دروازې پرانيستل شي. يوازې په هيله کولو څه نه بدلېږي، کړنه په کار ده. که چېرې موږ همداسې هر څه سبا ته پرېږدو، دا کار هېڅکله هم نه کېږي. ځکه داسې وخت هرومرو راځي، چې بيا به موږ ته د سبا په نوم بله ورځ نه وي پاتې.

راځئ لږ پراخ فکر وکړو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ